مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۵/۲۳

# فرانز کافکا او کوچنۍ نجلۍ

فرانز کافکا (۱۸۸۸۳ـ۱۹۲۴) هغه مشهور اروپایي لیکوال و چې واده یې نه و کړی. تقریباً ۴۰ کلن و چې یوه ورځ یې د برلین په پارک کې د قدم وهلو پرمهال کوچنۍ نجلۍ په ژړا ولیدله.

د ژړا علت یې ترې وپوښت، هغې ځواب ورکړ: د لوبو تر ټولو ښایسته نانځکه مې ورکه شوې ده. کافکا هم له نجلۍ سره د نانځکې لټون پیل کړ، خو دواړه ناکام شول، نو نجلۍ ته یې مخ کړ: اوس ناوخته دی، بله ورځ راشه او همدلته یې بیا ولټوه.

نجلۍ سبا ته بیا راغله؛ خو نانځکه یې و نه موندله، کافکا د نانځکې له لوري لیکل شوی یو لیک ورکړ. نانځکې نجلۍ ته لیکلي و: زما ګرانې! مه ژاړه! زه په سفر وتلې یمه، غواړم نړۍ وګورم، زه به هر وخت د خپل دلچسپ سفر په اړه خبر درکوم.

په دې توګه د یوې داسې کیسې پیل وشو، چې د کافکا د ژوند تر وروستۍ ورځې یې دوام وکړ. له نجلۍ سره به د ملاقات پر مهال کافکا هغې ته د نانځکې خطونه ویل، چې د حیرانونکي سفر په اړه به پکې خوندورې کیسې موجودې وې. دا لیکونه د نجلۍ لپاره ښه تمام شول او ډېر غم یې ورسره کم شو. بالاخره یوه ورځ کافکا نجلۍ ته یوه نوې نانځکه ورکړه او ویې ویل چې: نانځکه د نړۍ له سفر وروسته برلین ته راګرځېدلې.

نجلۍ وویل: دا نانځکه بیخي زما د نانځکې په څېر نه ښکاري. کافکا هغې ته یو بل لیک ورکړ، چې نانځکې پکې لیکلي و: «د نړۍ سفر زه بدله کړې یمه!»

نجلۍ نانځکه په غېږ کې ونیوله او په خوشحالۍ یې کور ته یوړه.

یو کال وروسته کافکا مړ شو. څو کاله وروسته چې هغه نجلۍ د پېغلتوب دایرې ته داخل شوه، د نانځکې دننه یې د فرانز کافکا یو لاسلیک شوی خط وموند چې پکې لیکل شوي و: «هر هغه شی چې ته ورسره مینه لرې، یوه ورځ به ورک شي... لیکن بالاخره به په کوم بل شکل او بڼې همدا مینه بېرته ترلاسه کړې.»

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ